آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۱/۰۴

# لاروړکي لارويان

## دولسمه برخه

## د ماسکو ژوند او خاطرات

### تخيلي جنت، عيني دوزخ:

زما ګرد چاپيره د اميدونو او ډار استازو اتڼ کاوه او په يوه سخت حالت کې را ګير وم. ډار مې له وطن نه د لـرې والي او هغي سترې تيارې نه و، چې ور روان وم. اميد مې دې ته و چې خدای بيا ژوند راکړ او د وطني ځناورو له سوځنده اور ښخه مې ځان او د کورنی يوه برخه را خلاصه کړې وه. زما د ميرمنې، ورېندار او ماشومانو په خولو کې ايله خندا پيدا شوې وه؛ خو دوی په دې نه پوهيدل چې د ستونزو بل پړاو اوس پيل کيږي. ميرمن مې له ډار سره په يوې ګډې خندا راته و ويل: اوس لکه چې يو څه ترې بې غمه شوو.

دې ته مې څه و نه ويل، خو د هغې ناوې کيسه را ياده شوه چې هلک خبر نه و، مور و پلار ښځه ور ته کړې وه. جلۍ را واده شوه، هلک لا نه وه ليدلې. ډنګ و ډول او د خلکو ګڼه ګونه چې خلاصه شوه، شپه نا وخته وه، هلک ته يې و ويل ځه خپلې ناوې ته ورشه چې په کوټه کې يوازې ناسته ده. هلک چې د ناوې کوټې ته ور ننوت، ناوې ناسته وه. دی هم ورو د هغې تر څنګ کيناست. د ناوې پر مخ جالی ډوله ټيکری را زوړندو. هلک ورو ټيکری جګ کړ، چې ګوري جلۍ په يوه سترګه ړنده ده. هلک له شرمه څه و نه ويل. ناوې خپل لاسونه پر خپلو ځنګنونو ايښي وو، هلک يې ورو لاس را ونيو، که ګوري چې لاس يې بې حسه دی. هلک چې د جلۍ په څنګ کې ناست و، جلۍ ته يې و ويل چې لڼ وړاندې در کينه، هلک د جلۍ پر شال باندې ناست و. جلۍ چې لڼ وخښيده، شال يې له سره ولويد، له شال سره يې ساختګي ويښتان هم له سره ولويدل، هلک چې ګوري جلۍ پکه هم وه. هلک تندي ته ټس ورکړ او وې ويل:

يا خدايه پاکه!
دا خو اوس را ته نکاح شوې هم ده، زموږ په واده خپل پردي ټول خبرشول، اوس څه وکړم.
جلۍ ورو هلک ته و ويل:
دګه چې تي تي.
هغه ټټله هم وه.

تاشکند ته په رسيدو سره، د تاشکند په هوايي ډګر کې بل پاکستانی ولاړ و او ځان يې ازبک پوليسو ته د «تاشقند تريول ايجنسي» نماينده ور پيژندلی و. له پاکستان ښخه د مجبورو راتلونکو افغانانو پاسپورتونه به يې قيدول چې دا زموږمسافرين دي، موږ مرسته ور سره کوو، لار او هوټل ور ښيوو. مسافرينوته به يې ويل چې يا شل ډالره راکړئ يا هوټل ته لاړشئ. په دې ډول پاکستانيانو په تاشکند کې هم وشکولو.

ما ته مې ميرمنې و ويل:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

دا څه حال دی، دلته هم ور نه خلاصی نه لرو. ما په ټوکه ورته و ویل:
دګه چي تي تي.

له تاشکند څخه په ریل ګاډي کي د ماسکو په لوري روان شوو. وروسته له دري ورځو دري شپو څخه ماسکو ته ورسیدو. د ریل په تم ځای کي لطیف لالا ولاړ و او مخکې له مخکې یې موږ ته یو کور په کرایه اخیستی و.

له بده مرغه زموږ په ټولنه او خلکو کي دا بیخي په یو دود بدل شوی دی چي هر هیواد وال چي کوم هیواد کي زده کړه کړې وي او یا ور مهاجر شوی وی، نو په هغو باندې بیلابیلي ټاپي لګول شوي دي. چا ته کمونست، چا ته جاسوس، چا ته مزدور او چاته... ویل شوي دي. جاسوسان په وطن کي هم خپله جاسوسي کوي او د باندې هم، پرهغو یې باک نه شته چې چیرې دي.

زما د ستر ګولیدلي حال له مخې، زموږ مظلوم هیواد وال په سلو کي نه نوي په وطن کې د وریښنو مجبوریتونو له مخې، په هر لوري یې چي توان رسیدلی دی، وتلي دي او په وطن کي یې د ناروا بل کړای شوي اور څخه ځان او کورنی ژغورلي ده.

زه او زما کورنی هم کوم خاص سیاسي فکر یا کوم بل شي ماسکو ته نه وو ورکش کړي، یو دا چې د لارورکو لارویانو د حرکت په سلسله کي مو بله لار او بله چاره نه درلوده، او بله خبره دا چې په هغه وخت کي روسیه نورو خواوو ته د خیز د تختي حیثیت درلود.

سره له دې چي په دې موږ ټول ښه پوهیدو او پوهیږو چي وطن باندې په بل کړای شوي اور کي شمالي سترګاونډي ښه پوره ونډه درلوده او لرې یې؛ خو موږ بله لار او بله چاره نه درلوده.

د افغانستان د غمیزې اورته له څلورو خواوو پکی وهل کیږی. له پاکستان نه، له ایران نه، له ستر؟ شمال نه اوله... نه دوی ټول په کډه په دې اور باندې خس، لرګي او تیل اچوي، لمبې یې ټول وطن او عام خلک سوځوي. ډیرو لږو کسانو له دې اور څخه ګټه اوچته کړې او په تناره کې یې ځان ته ډوډۍ او پراټي پخوي.

د یادولو وړ ده چي د مهاجرینو په ډله کي سیاسي خلک هم وو، چي ځانګړې اړیکي یې درلودې. یا په پردیو لمنو پورې زنګیدل او یا یې د تیرو ناکامو سیاستونو په تکرارولو، سره په هماغو شیانو شخوند واهه.
دا کار نه یوازې په ماسکو کي کیده، بلکې په ټوله اروپا، امریکا، کانادا، استرالیا او د افغانستان په ګاونډیو هیوادونو کي روان و او اوس هم روان دی. دوی به یو وخت هغو خلکو ته چي د دوی افکار، ایدیالوژي او د دوی د ګوند پروګرام او کړنلاره یې نه منله، د دګماتست خطاب کاوه، خو اوس وخت ثابته کړه چي تر ټولو ستر دګماتستان په خپله دوی دي چي زمان او تجربې د دوی کړنلاره او پروګرام غلط او ناکامه ثابت کړ،خو دوی بیا هم ټینګار وربانديٍ کوي.

په ماسکوکي اکثریت افغانان تش لاس وو او د عادي ژوند د پر مخ بیولو له پاره یې کار او مزدوري کوله. د چا چي لږ څه شته په لاس کي وو، د هغوی کار او بار ښه چلیده او له نږدې او لرې هیوادونو څخه یې تجارتي مالونه ماسکو ته راوړل.

ځیني افغانان چي د فرهنګ ډیوه یې لا تته شان په زړه کي بله وه، کله نا کله د فرهنګ، ژبې او ادبیاتو په باب یې هم فکر کاوه او فرهنګي کارونو ته هوسیدل.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په ماسکو کې په افغانانو باندې يو عجيب فرهنګي سکوت حاکم و. د دغه فرهنګي سکوت د ماتولو له پاره د مشاعرې په پلمه زما په کوربه توب يو شمير فرهنګيان د۱۹۹۴کال د سپتمبر په ۲۵ نيټه زما په استوګنځي کې سره را ټول شول. دلته د موضوع په ارتباط ، د افغانستان د جګړې داور د تازه ساتلو په برخه کې د ستر شمالي ګاونډي د مرستو د روښانولو په خاطر، د ګران لطف الرحمن خاموش دغه شعر ته پاملرنه وکړئ چې د لومړي ځل له پاره يې په همدې مشاعره کې واوراوه:

## اور او شما ل

اورونـــه بـل دي،کـــورونـــه سيځي
ســکـروټـي دل، دودونـــه خـيـــږي

داسي څوک نه شته چي دا اورمړکا؟

کـکـرۍ وسـوې، سـرونـه وسول
د بـريـتـورو،بـــريـتـــونـــه وسول
دښـکـلـوپيـغلـومـيني پــرې وسـوې
د ږيــرورو ږيـــرې پــرې وسوې

داسي څوک نه شته چي دا اور مړ کا؟

ممـانـي وسـوې،کـرکـنـي وسـوې
د ونـوڅـانــګې،اوخـنـې وســــوې
کـوتـرې وسـوې،چـڼ چڼې وسوې
تـــوتـکـی وسـوې،اوغـنې وسوې

داسي څوک نه شته چي دا اور مړ کا؟

تـيـرې پــخې شـوې،ګـټې پخې شوې
دخـــامـومينې،خـتـې پـخې شـوې
دا مـتې خـــاورې،مـتې پـخې شـوې
اورونــه بـل دي،کــورونـه سيـځي
سـکـروټـي دل دي،دودونـه خـيـږي

داسي څوک نه شته چي نه شته چي دا اورمړکا؟

دا خـو شمال و، چـي اوريــي راوړ
آرام يــي يـــوړ،اوشـــوريــي راوړ
څـوچي دا اوروې،داسي شمال وي
کوربه موخوروي،دا به موحال وي
خـدايـه تبـاه کــړې دشما ل مينــه
چي پـرې سره شــي زمـوږه يينـه

د دولسمي برخي پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ